# د لسو نو الحجې احکام

معهد السُّنَّة
بإشراف الشَّيخ هيثم
سرحان -وفَّقه الله-

## د ذوالحجې لومړۍ لس ورځې غوره ورځې دي

### ځکه چې په دې کې :

- (۸) أتمه د ترويې ورځ ده.
- او (۹) ورځ په عرفات غونډۍ باندې ودرېدلو ورځ ده.
- او (۱۰) ورځ د قرباني کولو اختر ورځ ده.

### او ځکه چې الله تعالی پرې قسم کړی:

بسم الله الرحمن الرحيم ﴿وَٱلۡفَجۡرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ ۝٢﴾ [الفجر]، ابن عباس فرمايلی: مراد پرې لسم د ذوالحجې دي، دا روايت امام حاکم روايت کړی، او همدا د اکثرو مفسرينو وينا ده.

### او ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

"نشته داسې ورځې چې په هغې کې الله تعالی ته نېک عمل کول ډېر زيات خوښ وي پرته له دې ورځو) يعنې د ذوالحجې" [سنن کتابونو دا حديث روايت کړی.]

- أبو عثمان النَّهديُّ رحمه الله فرمايلي: سلفو به درې لسيزې ډېرې خوښولې: د ذوالحجې لومړنۍ لس ورځې، او د روژې اخيرنۍ لس ورځې، او د محرم لومړۍ لس ورځې. ( دا روايت امام اصفهاني په (الترغيب والترهيب) کتاب کې راوړي)
- ابن عثمين رحمه الله فرمايي: طالب العلم ته پکار دي چې خلکو کې د دې ورځو فضيلت خپور کړي ځکه چې خلک ترې خبر نه دي.

## په لسو ورځو د ذوالحجه کې بايد عموما نېک اعمال ډېر وکړې خو په ځينو يې ډېر تاکيد راغلی:

### [۱] د اختر ورځې پرته نورو ورځو کې روژه نيول:

"رسول الله صلی الله عليه وسلم به د نهمې او لسمې ذوالحجې روژه نيوله او د هرې درې ورځې، او د هرې اونۍ دوشنبه او پنجشنبه" [دا حديث امام ابوداود روايت کړی]

او د عرفې ورځې روژه نيول د نورو ورځو نه ډېره موکده ده، فرمايلي: " د عرفې ورځې روژه نيول زه دالله تعالی نه اميد لرم چې ورستني او راروان کال ګناهونه ورسره رژيږي" (صحيح مسلم).

### [۲] حج او عمره کول:

فرمايي: "اسلام له پنځو شيانو څخه جوړ شوی .د لا اله الا الله محمد الرسول الله کلمې ګواهي ورکول،او لمونځ قايمول، او زکات ورکول، او حج کول ، او د رمضان روژې نيول" (متفق عليه) او فرمايلي دي: " د قبول شوي حج بدله له جنت پرته بله بدله نشته"

### [۳] قرباني کول:

فرمايلی: "د چا چې د قرباني کولو وسع کېږي او نه يې کوي هغه دې زمونږ مصلی ته رانږي کيږي" (ابن ماجه وأحمد)

او فرمايلی: "کله چې تاسو د ذوالحجې مياشت وليدله او څوک د قرباني کولو اراده لري نو خپل ويختان او نوکان دې نه اخلي" (مسلم)

### [۴] په نيکو لارو کې خرچ کول:

فرمايلي: "نشته داسې ورځې چې په هغې کې د نيک اعمال آلله تعالی ته د ذوالحجې ورځو نه ډېر خوښ وي، هغوي پوښتنه وکړه: جهاد هم غوره عمل نه دی په دې ورځو کې؟ هغه وويل: جهاد هم نه، پرته له هغه چا چې خپل ځان او مال سره ووځي اوبيا هيڅ څيز سره راونه ګرځي" (ځينو سننو دا روايات راوړی)

### [۵] د الله تعالی ذکر کول :

که تکبير وي که تهليل وي، که الحمد لله وي، که د قرانکريم تلاوت وي.همدا رنګه نور..

فرمايلي: " نو تاسو پدې ورځو کې تهليل تکبير تحميد زيات کړئ" ( مسند احمد)

او فرمايلي: " تر ټولو غوره دعا د عرفې ورځې دعا ده، او تر ټولو ښه وينا هغه ده چې ما او زما نه مخکې انبياو ويلي: « لا اله الا الله وحده لاشريک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدير»" ( سنن ترمذي)

## مشروع او جايزې حلالکې:

### [۱] د حج قرباني:

په متمتع او قارن حاجي باندې – يعنې چې حج أو عمره دواړه کوي- د حج قرباني واجبه ده، له دې پرته د نورو لپاره سنت ده، حاجي د خپلې قربانۍ نه خوراک کولای شي او د حرم په فقيرانو ديهم وخوري .

### [۲] قرباني کول:

دا د هر مسلمان لپاره مؤکد سنت دی، او هيڅ مسلمان ته جايز نه دي چې وسعه طاقت يې کيږي او قرباني نه کوي؛ ددې وينا د وجې نه: " د چا چې د قرباني کولو طاقت وي او قرباني نه کوي نوهغه دې زمونږ مصلی ته رانږي کيږي " ( ابن ماجه وأحمد)

### [۳] سنتګري:

دا مؤکد سنت دی د پلار په حق کې او يا هغه څوک چې د پلار پر ځای يې وي، دا د هر هغه ماشوم نه کيږي چې روح پکې اچولی شوی وي اګر که مړ پيدا شي ا و دا بايد:

- [أ] د هلک نه دوه ګډان وي.
- [ب] او د ماشومې نه يو ګډ دی.

## قرباني او عقيقه کې دا شرط دی چې بايد :

### [۱] د څارويو نه وي:

او هغه اوښان دی، غواګانې دي، او وزې دي

### [۲] بايد يو ټاکلي عمر ته رسيدلي وي:

قرباني نه صحيح کيږي پرته له :

- [أ] د ګډو نه هغه چې: نيم کال يې پوره شوی وي.
- [ب] او ثنيه له نورو څخه هغه چې: په اوښانو کې پنځه کلنه وي. .په غواګانو کې دوه کلنه وي په اوزو کې هم يوه کلنه وي.

### [۳] بايد هر عيب نه ( چې د قرباني کولو نه مانع ګرځي) سالمه وي :

پنځه سنتو کتابونو والا ليکلي: څلور قسمه څاروي دي چې قرباني پرې نه کيږي:

- [أ] هغه چې ښکاره ړنده وي
- [ب] هغه چې ښکاره ناروغه وي
- [ج] هغه ګوډه چې پوښتۍ يې ښکاره معلوميږي
- [د] او هغه د ډېرعمر واله چې هډوکي کې يې مغز نه لري

او پکار دا ده چې بايد څاروی روغ رمټ وي، د کامل صفاتو خاونده، هر څومره چې کامله وي هغومره به الله تعالی ته خوښ وي، او ډېر به يې وي. جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمايي:( مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره قرباني وکړه، اوښه مو د اوو نه او غوا هم د اوو نه) امام مسلم دا حديث روايت کړی.

## په اوومه ورځ لاندې کارونه مشروع

### [۱] سنتګري( عقيقه) :

که د شنبې په ورځ وزېږېد نو عقيقه بايد د جمعې په ورځ وکړي يعنې د زېږېدلو د ورځې نه يې يوه ورځ مخکې.

- که په اوومه ورځ ونشوه نو څوارلسمه ورځ .
- که په دغه ورځ هم ونشوه نو په يويشتمه ورځ دې وکړي .

### [۲] که نوم يې ورته

مخکې نه وکېښودلی بايد چې کېښودلی شي .

### [۳] د سر خرېل

او دا يوازې نارينه ماشوم لپاره خاص

### [۴] صدقه ورکول:

د ويښتانو د وزن مطابق دې سپين زر ورکړي، او دا هم نارينه پورې د سر خريلو ورسته عمل دی.